# فیضانِ شعبان

پښتو




پیشکش:
مجلس المدینة العلمیة (دعوتِ اسلامی)
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# فیضانِ شعبان

**دُعائے عطّار:** یاربَّ المُصطفٰے! څوک چې دا رساله "**فيضان شعبان**" اولولي يا ئې واوري هغه ته د خپل خوږ آخري نبي **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږه مياشت **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** كښې د ډير ډير عبادت كولو توفيق وركړې او د هغه بےحسابه بخښنه اوكړې. **اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د اهلِ بيتو روښانه شمع حضرتِ سَيِّدُنا امام جعفر صادق رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چې د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** په مياشت كښې هره ورځ ووه سوه (700) ځله درود پاك وائي، **الله** پاك به څه فرښتے مقررې كړي چې هغوئي به دا دُرود شريف د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باركاه ته رَسَوِي، په دې به د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رُوح مبارك خوشحاليږي بيا به **الله** پاك هغه فرښتو ته حكم فرمائي چې دې دُرود شريف ويوونكي د پاره تر قيامته پورې د بخښنې دعا كوئ. (القول البديع ص ۳۹۵)

دُنیا و آخرت میں جب میں رہوں سلامت
پیارے پڑھوں نہ کیونکر تم پر سلام ہر دم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم پكار دي چې په دې مباركه مياشت

کښي په خوږ پیغمبر مکّـی مَدَنـی **مُحَمَّدِعَرَبِی** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندي ډیر ډیر دُرود شریف اُولوَلُو ځکه چي **شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم** د درود شریف میاشت ده لکه څنګه چي شارِح بخاري حضرت علامه احمد بن محمد قسطلاني رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ او د هغوئي په حواله حضرت سیدنا شیخ شهابُ الدِّین احمد بن حجازي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ لیکي: بےشکه شعبان په نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندي د درود شریف وئیلو میاشت ده ځکه چي د درود شریف آیت په هُم دي میاشت کښي نازل شوے وو. (مواهب اللدنية،٢/٥٠٦تحفةالاخوان،ص٥٣)

آیتِ دُرود دا دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىٕكَتَهٗ یُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِیِّؕ یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَیْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِیْمًا﴿۵۶﴾ | [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالایمان: بےشکه **الله** پاك او د هغه فرښتے دُرُود وائي په هغه غیب ښودونکي (نبي) باندي، اے ایمان والؤ [تاسو هم] په هغوئي باندي دُرُود او ډیر ډیر سلام اولیږیٔ. |

وہ سلامت رہا قیامت میں — پڑھ لئے دِل سے جس نے چار سلام
میرے پیارے پہ میرے آقا پر — میری جانِب سے لاکھ بار سلام
میری بگڑی بنانے والے پر — بھیج اے میرے کِردگار سلام

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## میاشت کتل واجِب دی

اے عاشقانِ رسول! **شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم** د اسلامي کال ''آٹھمه میاشت'' ده چي د **رَجَبُ الۡمُرَجَّب** او د **رَمَضَانُ الۡمُبَارَك** په مینځ کښي ده. دا د هغه پینځو میاشتو نه وړومبۍ میاشت ده د

كومو چې مياشت كتل واجبِ كِفايه دي، هغه پينځه مياشتې دا دي: (۱) شَعْبَانُ الْمُعَظَّم (۲) رَمَضَانُ الْمُبَارَك (۳) شَوَّالُ الْمُكَرَّم (٤) ذُوالْقَعْدَةُالْحَرَام او (٥) ذُوالْحِجَّةِالْحرام.

## د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د نوم حكمتونه

﴿۱﴾ شعبان، د شِعْبٌ نه جوړ شوے دے چې د دې معنٰي ده كنډۇ. ځكه چې په دې مياشت كښې د خَير و برَكت عُمُومِي نُزُول كيږي، په دې وجه دې ته شعبان وائي، لكه ښنګه چې كنډۇ د غر لاره وي دغه شان دا مياشت د خير و بركت لاره ده.(مكاشفة القلوب، ۳۰۳)

﴿۲﴾ رسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: اِنَّمَا سُمِّيَ الشَّعبَانُ لِاَنَّهٗ يَنْشَعِبُ فِيهِ خَيْرٌ كَثِيْرٌ لِّلصَّائِمِ فِيهِ حَتّٰى يَدْخُلَ الْجَنَّة، يعني، دې مياشت ته شَعبان ځكه وائي چې په دې كښې روژه نيوونكي د پاره ډيرې ښيګړې (د ونې د خاخونو په شان) زرغونيږي، تر دې پورې چې هغه جنّت ته اُورَسِي. (التدوين في اخبار قزوين، ۱/ ۱۵۳)

حضرت امام رافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د دې حديث پاك مطلب دا دے چې د شعبان په مياشت كښې مسلمانان د ذِكر و اَذكار ، د نيكيو او د قرآن د تلاوت طرف ته مائله شي او د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د پاره تياري كوي. (التدوين في اخبار قزوين، ۱/ ۱۵۳)

او د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په مياشت كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د روژو د فرضيّت حُكم نازِل شوے وو. (حدائق الاولياء، ۲/ ۵۹۲)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د شَعبان په مياشت كښې د رَمَضَانُ الْمُبَارَك د استقبال تياري

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! ولې چې د شعبان مياشت د رَمَضَانُ الْمُبَارَك نه مخکښې راځي لهٰذا ځکه چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې د روژے او تلاوت کولو حکم دے دغه شان د شَعبان په مياشت کښې هم د دې ډير لوئي اهميت دے چې روژے اونيولے شي او تلاوتِ قرآن اوکړے شي چې د رمضان د استقبال تياري اوشي او نفس د عبادت سره عادت شي.

## د صحابه کرامو انداز مبارك

جنّتي صحابي حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: چې کله به د شعبان مياشت راغله نو مسلمانان به د قرآن کريم په تلاوت کښې مشغوله شول، د خپلو مالونو زکوٰة به ئې ادا کړو د پاره د دې چې کمزورو او مِسکِينانو ته هُم د روژو نيولو طاقت ملاؤ شي. (ماذا في شعبان، ص٤٤)

## د تلاوتِ قرآن مياشت

عظيم تابعي بُزرګ حضرتِ سَلَمه بن کُهَيل رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه فرمائي: د شعبان مياشتې ته به د قرآن د تلاوت کوونکو مياشت وئيلے شوه. حضرت حبيب بن ابو ثابِت رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه به د شعبان په راتللو باندې فرمائيل: دا د قاريانو مياشت ده. حضرت عَمرو بن قيس رَحۡمَةُ اللہِ عَلَيۡه به د شَعۡبَانُ الۡمُعَظَّم د راتللو سره خپل دوکان بند کړلو او ځان به ئې د تلاوتِ قرآن د پاره فارغه کړلو. (ماذا في شعبان، ص٤٤)

براءَت دے عذابِ قبر سے نارِ جہنم سے
مہِ شَعبان کے صدقے میں کر فضل و کرم مولیٰ

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اے غافله!

**خورو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** زمونږ بزرګانِ دين خو به دا مبارکه مياشت په عبادت کښې تېروله، تلاوت به ئې کولو، د نيکيو اهتمام به ئې کولو او مونږ دِ د غفلت په خوب اُوده يُو، د داسې غافلانو په باره کښې وئيلے شوي دي: اے په مبارکو وختونو کښې کوتاهي کوونکيه! دې وختونو لره ضائع کوونکيه! او دا [نيک وختونه] په بَدو اعمالو ککړَوُونکيه! تا خومره بد کارونه دې مبارکو وختونو ته حواله کړل! (د يو څو عربي اشعارو ترجمه)

﴿۱﴾ د رجب مياشت تېره شوه او تا پکښې هيڅ نيکي اونکړه او اوس دا برکت والا مياشت شعبان ده. ﴿۲﴾ اے د شعبان د عظمت نه بےخبره د دې وختونه ضائع کوونکيه! په هوش کښې راشه او د تباهئ نه اُويَرِيږه. ﴿۳﴾ ډير زر به ستا نه ستا تول خوندونه په زور واخستلے شي او مرګ به دِ د کور نه په زور بهر اوباسي. ﴿۴﴾ د ريښتوني او اخلاص نه ډکې توبه کولو په ذريعه چې خومره د ګناهونو علاج کولے شے اُوئې کړه. ﴿۵﴾ او د جهنّم نه سلامتي خپل مقصد اوګرځوه، بهترين مجرم هغه دے چې د خپلو جُرمونو علاج اُوکړي.

مختصر سی زندگی ہے بھائیو! نیکیاں کیجئے نہ غفلت کیجئے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم کښې څه دي؟

حضرتِ اَبُو مَعْمَر رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د شعبان مياشت په بارګاهِ الٰهي کښې عرض

اُوكړو: اے زما ربه! تا زه د دوه عظمت لرونكو مياشتو (رجب او رَمَضَانُ الْمُبَارَك) په مينځ كښې كيښودي يم نو تا زما څه فضيلت اِيښے دې؟ الله پاك ارشاد اوفرمائيلو: ما په تا كښې د قرآن پاك تلاوت كيښودلو. (الامالی المطلقة، ص۱۲۵)

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په شَعْبَانُ الْمُعَظَّم كښې ډيرې ډيرې نيكئ كوئ، ډير ذِكر و اَذكار، دُرُود شريف او تلاوت قرآن پاك كوئ او د دې عظمتونو والا مياشتې ډير تعظيم كوئ. د دې عظمتونو والا مياشتې د اَهَمِّيَّت د پاره دومره كافي ده چې د دې په باره كښې زمونږ خوږ پيغمبر مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: شَهْرُ شَعْبَانَ شَهْرِیْ يعني د شعبان مياشت زما مياشت ده. (مسند الفردوس، ۲/۲۷۵ حديث: ۳۲۷۶)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د الله پاك آخرى نبى مكّى مَدَنى مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې څنګه د رَمَضَانُ الْمُبَارَك دروژو تيارى كوله هُم دغسې به ئې د شعبان د روژو تيارى هُم كوله. (النور فی فضائل الايام والشهور، ص۱۷۳) او د رمضان د تعظيم د پاره ئې د شعبان روژے د ټولو نه افضلې [يعني غوره] روژے قرار كړې دې، څنګه چې

جنّتي صحابي حضرت اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د ټولو نه د زيات فضيلت والا روژو په باره كښې تپوس اُوشو نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د رمضان د تعظيم د پاره د شعبان روژے. (ترمذي، ۲/۱۴۵، حديث: ۶۶۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د روژو عادت

د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم د روژو يو حِکمت دا هُم بيان شوے دے چې د شعبان روژو سره د رمضان د روژو مشق (يعني پريکټس) اوشي د پاره د دې چې بيا د رمضان په روژو کښې مشقّت او تکليف نه محسوسيږي بلکه تر هغې پورې به بنده د روژو عادت شوے وي او د رمضان نه مخکښې به ورته په شعبان کښې د روژو د خوړوالي او خوَند احساس شوے وي، لهٰذا چې کله د رمضان مياشت راشي نو بنده به په چُستۍ سره د رمضان روژے نيول شروع کړي. (لطآئف المعارف ص١٥٥)

## د شعبان روژو سره محبّت

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت بي بي عائِشه صدِّيقه رضی اللہ عنہا فرمائي: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته د شعبان په مياشت کښې روژے نيول د ټولو مياشتو نه زيات خوښ وو چې په دې کښې به ئې روژے نيولې او بيا به ئې هغه د رمضان سره يو ځائے کړلې. (ابوداؤد،٢/٤٧٦، حديث:٢٤٣١)

اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرتِ بي بي عائشه صدّيقه رضی اللہ عنہا نه روايت دے: رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د ټول شعبان روژے نيولې او فرمائيل به ئې: د خپل استطاعت مطابق عمل کوئ ځکه چې الله پاك د هغه وخته پورې خپل فضل نه حصاروي تر څو پورې چې تاسو زړه اُونه بيلئ. (بخاري،١/٦٤٨، حديث:١٩٧٠مختصراً)

شارحِ بخاري حضرت علّامه مفتي محمد شريف الحق امجدي رحمۃ اللہ علیہ د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: مراد دا دے چې د شعبان په اکثرو ورځو کښې به ئې روژے نيولې او دا ئې تَغلِيباً (يعني د غلبے او زيادتوالي په لحاظ سره) کُل (يعني د ټولې مياشتې روژے نيول

تعبير كړي دي. لكه څنګه چې وائي: ”فلانكي ټوله شپه عبادت اُوكړو“ حالانكه هغه به د شپې طعام هُم خوړلے وي او د ضرورياتو نه به فارغه شوے هم وي، دلته تغليباً اكثر ته ”ټول“ وَئيلے شوي دي. نور فرمائي: د دې حديث نه معلومه شوه چې په شعبان كښې د چا طاقت وي نو زياتې روژے دِ اُونيسي. او هم دا مقصود دے د هغه حديثونو په كومو كښې چې فرمائيلے شوي دي چې د نِصف [يعني نِيم] شعبان نه پس روژے مه نيسئ. (نزهةالقاري،۳/۳۷۷،۳۸۰)

كه څوك د پوره **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** روژے نيول غواړي نو هغه ته ممانعت هم نشته. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ډير اسلامي ورونړه او اسلامي خويندې په رجب او **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** دواړو مياشتو كښې د روژو نيولو تركيب كوي او مسلسل روژے نيسي نيسي تر دې چې دا حضرات د **رَمَضَانُ الْمُبَارَك** سره يو ځائے شي.

## شفاعتِ مُصطفٰي

حضرت علّامه شاه فضل رسول بدايُوني رَحمَۃُاللهِعَلَيه فرمائي: څوك چې د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** روژے د دې د پاره نيسي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته خوښې وے، هغه ته به د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت نصيب كيږي. (المتعقد المنتقد، ص ۱۲۹)

فرمائیں گے جس وقت غلاموں کی شفاعت — میں بھی ہوں غُلام آپ کا مجھ کو نہ بُھلانا
فرماکے شَفاعت مِری اے شافِعِ محشَر! — دوزخ سے بچاکر مجھے جنت میں بَسانا

## حضور ﷺ ته د شعبان د روژو د خوښ والي وجه

جنّتي صحابي، حضرت اُسامه بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عرض اُوكړو: يارَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه وينم چې تاسو صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه د شَعبان روژے نيسئ داسې روژے په بله

مياشت كښې نه نيسئ. نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: د **رجب** او رمضان په مينځ كښې دا مياشت ده. خلق د دې نه غافِله دي په دې كښې د خلقو اعمال د **الله** پاك په بارګاه كښې پيش كيږي او ما ته دا مَحبُوب (يعني خوښه) ده چې زما عمل په داسې حال كښې اوچت كړے شي چې زه روژه دار يم. (نسائی، ص۳۸۷ حديث:۲۳۵٤)

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** زمونږ د خوږ پيغمبر **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا عمل يقيناً زمونږ غلامانو د تعليم د پاره وو ځكه خو ئې اُوفرمائيل چې "د **رجب** او **رمضان** په مينځ كښې دا مياشت ده، خلق د دې نه غافله دي." لهٰذا مونږ له هم پكار دي چې د غفلت د خوب نه رابيدار شو، په نيكيو كښې اضافه اوكړو او د خپل آخرت بنه كولو فكر اوكړو او په دې نِيَّت د شعبان د مياشتې روژو په شوق سره اُونيسو چې په دې مياشت كښې كله زمونږ اعمال نامه زمونږ د خوږ **ربّ** په بارګاه كښې پيش كيږي نو چې كاش! مونږه هم روژه دار يُو.

يُوں ميرا دُنيا سے سفر ہو اُن کی چوکھٹ میرا سر ہو
پیشِ نظر ہو اُن کا جلوہ یا اللہ میری جھولی بھر دے

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## شبِ بَراءَت

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د **شَعْبَانُ الْمُعَظَّم** پينځلّسمه شپه يعني شبِ براءَت ډيره بركتي شپه ده. په دې شپه كښې د **الله** پاك ډير ډير رحمتونه او بركتونه نازليږي. د **الله** پاك په بارګاه كښې په دې شپه كښې د خپلې دُنيا او آخرت د خير سوال كول پكار دي ځكه چې په دې شپه كښې دُعاګانې قبليږي، د **الله** پاك آخري نبي مكِّی مَدَنی **مُحَمَّدِ**

عَرَبِی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پينځۇ شپو په باره كښې فرمائيلي دي چې په دې كښې دعا نه رَد كيږي، په هغې كښې يوه شپه د شعبان پينځلّسمه شپه (يعني شبِ براءت) ده. (جامع صغير، ص۲۴۱، حديث: ۳۹۵۲ مختصراً)

## د شبِ براءت پينځلّس(15) نومونه

حضرت علّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نقل فرمائي چې: د شبِ براءت څلور نومونه دي: لَيْلَةُ الْمُبَارَكَة (يعني د بركت شپه)، لَيْلَةُ الْبَرَاءَة (د نجات شپه)، لَيْلَةُ الصَّك (د دستاوَيز [يعني لِيک] شپه) لَيْلَةُ الرَّحْمَةُ (د رحمت شپه). نور فرمائي: دې ته لَيْلَةُ الْبَرَاءَة او لَيْلَةُ الصَّك (د نجات او دستاويز شپه) ځكه وائي چې كله تاجر د مالك نه غله وصول كړي نو د هغه د پاره براءت نامه اوليكي. دغه شان الله پاك په دې شپه د خپلو مؤمنانو بندګانو د پاره براءت نامه ليكي. (التبيان فی بيان ما فی ليلة النصف من شعبان، ۴۱/۳)

حضرت علّامه سيد محمد بن علوي مالكي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو څو نور نومونه هم ذكر كړي دي: لَيْلَةُ الْقِسْمَة، لَيْلَةُ التَّكْفِيْر ځكه چې په دې شپه كښې ګناهونه معاف كيږي، لَيْلَةُ الْاِجَابَة، ځكه چې په دې شپه كښې دعا قبليږي، لَيْلَةُ الْحَيَاة، لَيْلَةُ عِيْدُ الْمَلَائِكَة (يعني د فرښتو د اختر شپه)، لَيْلَةُ الشَّفَاعَة، لَيْلَةُ الْجَائِزَة، لَيْلَةُ الرُّجحَان، لَيْلَةُ التَّعْظِيْم، لَيْلَةُ الْقَدْر، لَيْلَةُ الْغُفْرَان. (ماذا فی شعبان، ص۲۷۵۷ ملتقطاً)

## د رحمت درې سوه دروازے

جنّتي صحابي، حضرت اُبَی بن كَعْب رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: رَسُوْلُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ما ته جبريل عَلَيْهِ السَّلَام په شبِ براءت كښې حاضر شو او ما ته ئې عرض اُوكړو چې تاسو پاڅئ او لمونځ ادا كړئ او خپل سَر او لاسونه آسمان طرف ته اوچت

کړېځ. ما ترينه تپوس اُوکړو: اے جبريل! (عَلَيْهِ السَّلَام) دا څنګه شپه ده؟ عرض ئې اوکړو: يا **مُحَمَّد** صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! دا هغه شپه ده چې په دې کښې د آسمان او د رحمت درې سوه دروازے بيرته کړے شي، د **الله** پاك سره شريك جوړوونکو، په خپل مينځ کښې بُغض و کِينه لرونکو، شرابيانو او بدکارو نه علاوه د ټولو بخښنه اوکړے شي، د دې خلقو تر هغه وخته پورې بخښنه نه کيږي کوم وخته پورې چې ريښتونې توبه اونکړي. خو د شرابو عادت لرونکي د پاره د رحمت د دروازو نه يوه دروازه خلاصه [يعني کولاؤ] پريښودے شي تر دې چې هغه توبه اوکړي چې کله توبه اوکړي نو د هغه بخښنه اوکړے شي، دغه شان کِينه ساتونکي د پاره هم د رحمت د دروازو نه يوه دروازه خلاصه [يعني کولاؤ] پريښودے شي تر دې چې هغه خپل ملګري (يعني چا سره چې کينه لري هغه) سره خبرې اترې اوکړي، چې کله هغه سره خبرې اوکړي نو د هغه هم بخښنه اوکړے شي، نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے جبريل! که هغه خپل ملګري سره خبرې اونکړي تر دې چې شبِ براءت تيره شي نو (بيا)....؟ حضرت سَيِّدُنا جبريل عَلَيْهِ السَّلَام عرض اوکړو: که هغه په هُم دې حالت باندې برقرار پاتې شي تر دې پورې چې (د ځنکدن د حالت په سبب) د هغه په سينه کښې ساه نښتل شروع شي بيا هم د هغه د پاره د رحمت دروازه کولاؤ پاتې وي، که هغه (د مرګ نه مخکښې د مسلمان د کِينے نه) توبه اوکړي نو د هغه توبه قبوله ده بيا نبي کريم صَلَّى الله عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **جَنَّتُ الْبَقِيع** ته تشريف يوړلو او په سجده پريوتلو او په دې الفاظو ئې دعا اوغوښتله: **اَعُوْذُ بِعَفْوِكَ مِنْ عِقَابِكَ وَ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ اَعُوْذُبِكَ مِنْكَ جَلَّ ثَنَاءُكَ لَا اَبْلُغُ الثَّنَاءَ عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ** (يعني اے **الله** پاکه!) زه ستا د عذاب نه ستا مُعافي، ستا د ناراضګئ نه ستا رضا او ستا [د

عذاب] نه ستا پناه طلب کووم ستا صفت اوچت دے، زه ستا د صفت حق نه شم ادا کولے، ستا حقيقي شان هُم هغه دے کوم چې تا پخپله بيان کړے دے.

د شپې په خلورمه حصه کښې حضرت سيدنا جبريل عَلَيْهِ السَّلَام نازِل شو او عرض ئې اُوکړو، يا **مُحَمَّد** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! خپل سر آسمان طرف ته اوچت کړئ، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې خپل سر مبارك آسمان طرف ته اوچت کړو نو اُوئې ليدل چې د رحمت دروازے کولاؤ دي او د هرې دروازے نه يوه فرښته آواز کوي، (په اولنئ دروازه باندې يوه فرښته داسې آواز لګوي چې) مبارك دِ شي هغه چا ته چې په دې شپه کښې عبادت اوکړي، په دويمه دروازه باندې هم يوه فرښته داسې آواز کوي چې مبارك دِ شي هغه چا ته چې په دې شپه کښې سجده اوکړي، په دريمه دروازه باندې هم يوه فرښته آواز کوي چې مبارك دِ شي هغه چا ته چې په دې شپه کښې رُکوع اوکړي، په خلورمه دروازه باندې هم يوه فرښته آواز کوي چې مبارك دِ شي هغه چا ته چې په دې شپه کښې د خپل ربِّ کريم نه دعا غواړي، په پينځمه دروازه باندې يوه فرښته داسې آواز کوي چې مبارك دِ شي هغه چا ته چې په دې شپه کښې د خپل ربِّ کريم نه په دعا کولو کښې مشغول وي، په شپږمه دروازه باندې هم يوه فرښته آواز کوي چې په دې شپه کښې دِ مسلمانانو ته مبارك شي، په وومه دروازه باندې هُم يوه فرښته آواز کوي چې د الله پاك يَو منلو والؤ ته دِ مبارك شي، په اتمه دروازه باندې يوه فرښته آواز کوي چې شته څوك توبه کوونکے چې د هغه توبه قبوله کړے شي؟ په نهمه دروازه باندې يوه فرښته آواز کوي شته څوك بخښنه غوښتونکے چې د هغه بخښنه اوکړے شي؟ او په لسمه دروازه باندې هم يوه فرښته آواز کوي چې شته څوك دعا غوښتونکے چې د هغه دعا قبوله کړے شي؟ بيا رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: اے جبريل عَلَيْهِ السَّلَام! د رحمت

دا دروازے د کوم وخته پورې کولاؤ وي؟ عرض ئې اوکړو: د شپې د شروع نه د سحر ختلو پورې. خوږ پيغمبر مُحَمَّدِ عَرَبِی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: په دې شپه کښې د چيلو د ويښتو نه هُم د زياتو خلقو بخښنه کيږي، په هُم دې شپه د خلقو د ټول کال اعمال (آسمانونو طرف ته) اوچتولے کيږي او په هُم دې شپه رزق تقسيميږي. (تاريخ ابن عساكر، ٥٢/٧٢۔ ٧٣)

رحمت کا ہے دروازہ کھلا مانگ ارے مانگ
دیتا ہے کرم اُن کا صدا مانگ ارے مانگ

بھر جائے گا کشکول مُرادوں سے ترا بھی
بن کر میرے آقا کا گدا مانگ ارے مانگ

سرکار سے سرکار کو مانگوں گا نیازی
سرکار نے جس وقت کہا مانگ ارے مانگ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د فرښتو اختر

حضرت سيدنا امام ابو حامد محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: وائي چې د آسمان د فرښتو د پاره دوه شپې د اختر او د خوشحالئ دي څنګه چې په دُنيا کښې د مسلمانانو د پاره دوه اخترونه دي، (۱) د پينځلّسم شعبان شپه او (۲) لَيْلَةُ الْقَدْر.

## د ټول کال د ګناهونو کفاره

**حضرت** امام تَقِيُّ الدِّين سبکي شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خپل تفسير کښې فرمائي: دا شپه د ټول کال د ګناهونو کَفّاره جوړيږي، شبِ جمعه د ټولې هفتے د ګناهونو کَفّاره او لَيْلَةُ الْقَدْر د ټول عمر د ګناهونو کَفّاره وي يعني په دې شپو کښې د **الله** پاك عبادت کول او په يادِ الٰهي کښې ټوله شپه تيروَل د ګناهونو د کَفّارے سبب وي په هُم دې وجه دې شپو ته د کَفّارے شپه وئيلے کيږي. (مکاشفة القلوب، ص٣٠٣)

## جنّت ښائسته کولے کیږي

**حضرت** کعبُ الاحبار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: **الله** پاك د شَعبان په پینځلّسمه شپه حضرت جبريل عَلَيْهِ السَّلَام جنّت طرف ته ليږي، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام د جنّت د ښائسته کولو حکم ورکوي او فرمائي: **الله** پاك ستا په دې شپه کښې د آسمانونو د ستورو، د دنيا د ورځو او شپو، د وَنو د پاڼړو، د غرونو د وزن او د شګو د ذرّو همره خلق د جَهنَّم نه آزاد کړي دي. (ماذا في شعبان، ص۸۷)

صَفِ ماتم اُٹھے خالی ہو زنداں ٹوٹیں زنجیریں
گنہگارو چلو مولیٰ نے دَر کھولا ہے جنّت کا

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## شبِ براءت او د نبي کريم ﷺ عبادت

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په شبِ براءَت کښې په مختلفو مقاماتو کښې په مختلف انداز کښې عبادت کولو. څنګه چې حضرتِ سَيِّدَتُنا بي بي عائشه صديقه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فرمائي: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ولاړه او په ناسته مسلسل لمونځ کولو تر دې چې سحر شو، د سحره پورې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښپې مبارکې پړسيدلې وے چنانچه ما د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښپې مبارکې زوړ کول شروع کړل. (الدعوات الكبير، ۲/۱۴۵، حديث:۵۳۰ ماخوذا)

**اے عاشقانِ رسول!** کله داسې هم شوي وو چې په خپل امّت باندې ډير مهربانه پيغمبر **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په شبِ براءت کښې اديرے [مُقبرے] ته تشريف وړے دے او هلته ئې د خپل رب نه د قبرونو والؤ د پاره دعاګانې غوښتې دي، څنګه

چې حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صديقه رضی اللہ عنہما فرمائي چې ما د پينځلّسم شعبان په شپه باندې نبي کريم صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم په جَنَّتُ الْبَقِيع کښې په داسې حال کښې اوليدلو چې هغوئي صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم د مسلمانانو نارينؤ، زنانؤ، او شهيدانو د پاره د بخښنې دُعا کوله.

(شعب الايمان، ٣/٣٨٤، حديث: ٣٨٣٧ ماخوذا)

صد شُکر خُدیا تُو نے دِیا، ہے رَحمت والا وہ آقا
جو اُمّت کے رَنج و غم میں، راتوں کو اَشک بَہاتا رہے

(وَسائلِ بخشِش(مُرَمَّم) ص، ۴۷۵)

خورو او مُحترمو اسلامي وروڼړو! مونږ له پکار دي چې د رحمت او مغفرت دا مبارکه شپه په عبادت او ذِکر و اَذکار کولو کښې تيره کړو، او د خپل ځان او د ټول اُمّت د بخښنې دعا کولو سره سره قبرستان ته لاړ شو او د خپلو مرحومِينو د پاره هُم د بخښنې دعا اُوکړو.

## شبِ براءت کښې مقبرې ته تلل

د الله پاك آخري نبي صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم ارشاد فرمائي: ما تاسو د قبرونو د زيارت کولو نه منع کړې وې، اوس د قبرونو زيارت کوئ ځکه دا د دنيا نه بے‌رغبته کول کوي او د آخرت ياد پيدا کوي. (ابن ماجه، ٢/٢٥٢، حديث: ١٥٧١)

معلومه شوه چې وقتاً فوقتاً قبرستان ته تلل پکار دي چې قبرونو کتلو سره زمونږ په زړونو کښې د آخرت فکر پيدا شي.

## خپل مرحومين هم ياد ساتئ

جنّتي اِبنِ جنّتي، صحابي اِبنِ صحابي حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہما نه روايت دے چې کله شبِ براءت راشي نو (مُؤمِنان) مړي د خپلو قبرونو نه را اُوځي او د خپلو کورونو دروازو ته اُودرېږي او وائي: په مونږ پسې د صدقه کولو په ذريعه [په مونږ] رَحم

اوکړئ اګر که د ډوډئ يوه لُقمه  وي، ځکه چې مونږ د دې ضرورت مند يُو. که هغوئي څه (صدقه کړے شوے) خيز اُو نه وِيني نو ډير په ارمان بيرته لا ړ شي.

(فتاوٰي رضويه، ۱۴/۶۹۴، الدرر الحسان فى البعث و نعيم الجنان، ص۳۳)

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضور ﷺ د نمسي په شبِ براءت کښې معمول

جنّتي اِبنِ جَنَّتي، حضرتِ سَيِّدُنا امام حسن مُجتبٰى رضی اللہ عنہ به د شبِ براءت درې حِصَّے کولې، په يوه حصه کښې به ئې د الله پاك په دې فرمان: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِيمان: اے ايمان والؤ! په هغوئي باندې دُرُود او ډير ډير سلام اوليږئ. [يعني په دې آيت] باندې به ئې عمل کولو او په خپل نِيکه مبارك صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به ئې درود پاك وئيلو، په درې کښې يوه حِصَّه کښې به ئې توبه و استغفار کولو او په آخري دريمه حِصَّه کښې به ئې  د الله پاك په فرمان باندې عمل کولو او ركوع او سجدے به ئې کولې. هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به فرمائيل چې: ما د خپل باباجان (حضرتِ سَيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰى رضی اللہ عنہ) نه اوريدلي دي چې نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې د نِيم شعبان شپه ژوندئ کړي (يعني په دې شپه کښې عبادت اوکړي) هغه به په مُقَرَّبِينو کښې ليکلے کيږي. (القول البديع، ص۳۹۶)

## په شبِ براءت کښې عبادت کول مُستحب دي

حضرت خالد بن معدان، حضر ت لقمان بن عامر او نورو بزرګانِ دين رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى به د شَعْبَانُ الْمُعَظَّم په پينځلّسمه شپه ښه لباس اَغوستلو، خوشبو به ئې لُوګے کوله، رانجه به ئې

لګول او د شپې به په جُمات کښې راجمع شو او عبادت به ئې کولو. حضرت اسحاق بن راهُوَيه به هم د دې خبرې تائيد کولو او په دې شپه کښې په جماتونو کښې د راجمع کيدلو او د نفلي عبادت په باره کښې فرمائي: ”دا څه بِدعت (يعني بد کار) نه دے.“ (ماذافی شعبان، ص۷۵) حضرت علّامه شهاب الدين احمد بن حجازي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: شبِ براءت کښې عبادت کول مُستَحَب دي. (ماذافی شعبان، ص۸۵ تحفة الاخوان فی قراءة الميعاد، ص۶۵)

## اويا زره فرښتے به د بخښنې دُعا کوي

حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: په شبِ براءت کښې سُوْرَةُالدُّخان وئيل مُسْتَحَب دي. جنّتي صحابي حضرت ابو هريره رَضِىَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: څوك چې د شپې د حٰمٓ اَلدُّخَان تلاوت کوي نو هغه به په داسې حال کښې سحر کوي چې اويا زره فرښتے به د هغه د پاره د بخښنې دعا کوي. (التبيان فی بيان مافی ليلة النصف من شعبان الخ، ۳/۵۲)

## شبِ براءت کښې د اَسلافو دُعا

اے عاشقانِ صحابه و اهلِ بيت! د ډيرو صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او بزرګانِ دين نه ثابت دي چې هغوئي به په دې شپه کښې (بطورِ عاجزي) دا دعا غوښتله: اَللّٰهُمَّ اِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنَا اَشْقِيَاءَ فَامْحُهُ وَاكْتُبْنَا سُعَدَاءَ وَاِنْ كُنْتَ كَتَبْتَنَا سُعَدَاءَ فَاَثْبِتْنَا فَاِنَّكَ تَمْحُوْا مَاتَشَآءُ وَتُثْبِتُ وَعِنْدَكَ اُمُّ الْكِتٰبِ. ترجمه: اے الله پاکه! که تا مونږه بدبخته ليکلي يُو نو ته دا [بد بخته ليکل] وران کړې او مونږه سعادت مند اوليکې او که تا مونږه سعادت مند ليکلي يُو نو دا ثابِت اوساتې، بےشکه ته چې څه اوغواړې ورانوے ئې او څه چې اوغواړې ثابتوے ئې، او هُم تا سره اُمُّ الْكِتَاب دے. (التبيان فی بيان مافی ليلة النصف من شعبان الخ، ۳/۵۱)

# شبِ براءت خنګه تيرول پکار دي

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مشهور مفسّر حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د دې مياشتې پينځلسمه شپه کومې ته چې شبِ براءت وائي ډيره مبارکه شپه ده. په دې کښې قبرستان ته تلل او هلته فاتحه وئيل سنّت دي، هُم دغه شان د بزرګانِ دين مزاراتو ته حاضريدل هُم د ثواب کار دے که کيدے شي نو د خوارلسمې او پينځلسمې ورځې روژه دِ اُونيسي. په پينځلسم تاريخ دِ حلوه وغيره باندې د بزرګانِ دين فاتحه اُولولي او صدقه و خيرات دِ ئې کړي او په پينځلسمه شپه دِ ټوله شپه وِيښه تيره کړي او نفلونه دِ اوکړي او په دې شپه دِ هر مسلمان په بل باندې خپل قصورونه معاف کړي، قرض وغيره دِ ادا کړي ځکه چې د بُغض والا مسلمان دُعا نه قبليږي. نور فرمائي: که ټوله شپه ويښه نه شئ تيرولے نو څومره چې کيدے شي عبادت دِ اوکړي او د قبرونو زيارت دِ اوکړي. که په دې شپه باندې د بيرې ووه [7] پاڼړو له په اوبو کښې جوش ورکړي او [ په هغه اوبو] غُسل اوکړي نو اِنْ شَآءَاللّٰه! ټول کال به د جادو د اثر نه محفوظ اوسي. (اسلامی زندگی، ص۱۳٤)

بگڑی قسمت سنور جائے گی ہو نظر
سُوئے لوح و قلم، تاجدارِ حَرم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په خاٸے کښې کیدونکې د دعوتِ اِسلامي د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "فکرِ مدینه" په ذریعه د مَدَني اِنعاماتو رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځاٸے ذمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي." اِنۡ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافلو" کښې سفر کول دي. اِنۡ شَآءَ اللّٰہ عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچی)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com